رڼـاګل اریـوبـزی([1]) ۲۰۱۶/۰۶/۱۹

# ډاکتر ځیرکیار څوک دی،

## چرته پیدا شوی دی، څرنګه سړی دی

### او په کوم ځای کی لوی شوی دی؟

**۱۱ جون ۲۰۱۶/۲۲غبرګولی ۱۳۹۵**

**لیکوال: رڼاګل اریـوبـزی، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي پخوانی استاد**

« تاریخ هیڅ مه لوله: خو ژوندلیک، ځکه چې دغه ژوند دی بې له نظریې نه.» برتانوي سیاستمدار بنجمین ډیسرائیلي (۱۸۰۴تر ۱۸۸۱)

ځیرکیار هسی یو سړی دی چی په ونه ډیر نری دی او لږ لنډ، عینکی تل په سترګو، شپه ورځ ناست کتابخانوکی، ډوب ځیرنو ، لیکنو او کتابو کی، ورک فکرونو او فلسفو کی، په مانا کی شو ډیر پنډ، دو مره پـنـډ چی هیچری نه ځاییږی، نه پټیږی،له هر ځایه لیدل کیږی او دا هسی چی ځلیږی.چی ځلیږی خو سوزیږی او خوریږی. دا چی ملک په پیسو پلوری، د زور زرو غلامان شی، چی غرور سرور تری لاړ شی او د نورو بنده ګان شی، د ایمان چی سودا ګرشی په فسادکی اتلان شی او دا افغان چی افغان وژنی،دی وحشت ته حیرانیږی، دا افغان چی په بل وژنی، دی پستی سره نه جوړیږی. ملک یی دی اور کی ستی شو، دی د ده په تاو سوزیږی. چی سوزیږی نو لمبه کړی، څه شغلی تری پورته کیږی، کلی کور په رڼا کیږی، چی د چا دسترګو نورشی، دزړه تل ته هم رسیږی، چی په زړه کی ځای پیدا کړی، نو به تل هلته اوسیږی، بیا نو هیڅ نه پنا کیږی، دا هسی چی ځلیږی. مبارک دی زما یاره ځیرکیاره چی په دی لاره روان یی او خوځیږی، په منزل د خپل ارمان کی له خزان او له بهاره نه ایریـږی. زه به څه درته لګیا یم، ته په دی راز ښه پوهیږی او دا هسی چی ځلیـږی.

ډاکتر رحمت ربي ځیرکیار افغان، په خټه پښتون او په قام سالارزی دی. د سالارزیو زیاته برخه په باجوړ اویوه کوچنی برخه یی دکونړ ولایت د اسمارپه ولسوالی کی اوسیږی. ځیرکیار دباجوړ دچار منګ دری په ګل آباد کلی کی دنیا ته راغلی دی. د نیکه نوم یی رانه هیر دی، پلار یی محمد شعیب نومیده چی په لر اوبرکی دجان صاحب په نامه مشهور و. ما (رڼاګل اریوبزی) د۱۹۷۳ ع کال دآګسټ په میاشت کی دجان صاحب سره په کا بل کی دوه ساعته کتنه درلوده. په دی وخت کی ما په کابل کی د دیپلوم لپاره ځنی ځیړنی کولی او جان صاحب دوخت دولسمشر شهید محمد داود په بلنه کابل ته راغلی و. جان صا حب دهیواد په حال خبر او زړه سوانده شخصیت و.هسی خویی کورنی له سره دانګریزی ښکیلاک سره لاس او ګریوان وه او دفخر افغان خان غفار خان سره یی نږدی اړیکی در لودی . ډاکټر ځیرکیار دا اړیکی دبا چا خان دکورنی دځینو غړو سره تر اوسه پالی. جان صاحب نه غوښتل چی زوی یی په ډیر کوچنیتوب کی له ځانه بیل کړی نو ځکه یی لومړنی زده کړه په کور کی ورته تر تیب کړه تر څو چی په ۱۹۵۴ م کال کی دخوشال خان بابا لیسی په دریم ټولګی کی شامل شو. له کوچنیتوبه یی د کار او زیار سره عادت اخیستی ونو ځکه به هر کال کی دخپل ټولګی د وتلو زده کونکوپه ډله کی راته.دخوشال بابا په لیسه کی دنصابی زده کړی تر څنګ وخت په وخت دتدریسی هیئت په لار ښونه دزده کونکو له خوا ډرامی او کنفرانسونه دایریدل او ځیرکیار یی فعال ګډون کونکی و.ده دلیکنی لومړنی تجربی په

---

[1]- لیکوال: رڼاګل اریوبزی، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي پخوانی استاد



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

همدی بهیر کی راغونډی کړی او ورو ورو یی شهرت دخوشال بابا دلیسی دیوالو نه رابهر او درحمان باب تر لیسی پوری را ورسیده. په ۱۹۶۴م کال کی له دی لیسی نه فارغ





ځیرکیار : پیښور، صدربازار ۱۹۸۰م ځیرکیار: سانته باربارا کلیفورنیا ۱۹۹۵ م

او په ۱۹۶۵ م کال کی د کابل پوهنتون په ام، پی سی بی کی شامل شو. دهمدی کال په دوهمه نیمایی کی د لوړو زده کړوله پاره د هغه وخت غربی المان ته دبورس په اخستلو بریالی شو. دالمانی ژبی کورس یې په شتوفین/برایسګو، اوشتودین کولیګ یی دها یدلبرګ په ښار کی په بری پای ته ورسول (شتودین کو لیګ په المان کی یوه کلنی تعلیمی مو سسه ده او د هغو بهرنیو لپاره جوړه شوی ده چی د المان کی په پوهنتونوکی دلوړو زده کړو نیت لری). په ۱۹۶۷/۱۹۶۸م کال کی یی د فرانکفورت/ماین په ګویتې پو هنتون کې د روزنیزو علومو په څانګه کی لوړی زده کړی پیل کړی. په همدی کال کی دپو هنتون افغانی محصلینو پریکړه وکړه چی دافغانی محصلینو تولنه جوړه کړی. ځیرکیار چی دټولنی بنسټ ایښودونکی غړی ودهغی داساسنامی او بر نامی په لیکلو کی اغیزناکه برخه واخیسته او د ټولنی دلومړی مشر په توګه وټاکل شو.دټولنی په غونډو کی اوږده بحثونه کیدل،دسیاسی او ټولنیزو علومو ځنی اصطلاحات هم کارول کیدل بی له دی چی دټولو په مانا پوه شو، نوځکه مو پریکړه وکړه چی دخپلی ټو لنی په چو کاټ کی یو ازاد سمینار جوړ کړو. په دی سمینار کی به هڅه وکړو چی ځانونه دیوه بل په مرسته له یوی خوا دځنی سیاسی مکتبونو او دهغوی دفکری بنسټونو سره اشنا کړو او له بلی خوا دخپل هیواد په هکله مالومات سره شریک کړو. دسمینار غونډه په اونی کی یو ځل دیکشنبی د ماښام په اتو بجو او دیرش دقیقو د فرانکفورت ښار د «لیسینګ سرک» د محصلینو په اوسید ځای کې پیل کیده او دشپی تر ۱۱ بجو پوری یی هم دوام کاوه. ځیرکیار چی دتحصیل په څانګه کی یی په سیاسی روزنه زور لګولی و دی سمینار ته ډیره ګټه ورسوله. په فرانکفورت کی دافغانی محصلینو په هڅه دالمان په بیلا بیلو پو هنتونونو کی دافغانی محصلینو ټو لنی جوړی شوی او په ګډه مو په المان کی دافغانی محصلینو فدراسیون تری جوړ کړ.فدراسیون د «سپرغی» په نامه په یوه شپږ میاشتنی خپرونه هم لا س پوری کړاو ځیرکیار په دی خپرونه کی هم د پام وړ برخه اخیستې وه. ده د۱۹۷۱م کال دجون په میاشت کی د روزنیزو علومو په څانګه کی د « دولتی از موینی»علمی درجه په ښه کچه تر لاسه کړه. علمي تیزس یې په دې ډول و له فرانکفورت/ماین نه وبرلین ته وکوچیده.

Palamentarismus in der Bundesrepublik Deutschland.

هلته یې د برلین په آزاد پوهنتون کې د سیاسي علومو په پوهنځي کې لوړو زده کړو ته دوام ورکړ. په سمینارونو کې د بحثونو او استدلال په اساس ، پوهاندانو فیدریش ایبرت شتیفتونګ ته د بورس لپاره معرفي کړ او بورس یې ډیر زر حواله شو. دا بورس هغه چاته ور کول کیږی چی په لوړه کچه دعلمی څیړنو وړتیا ولری. په ۱۹۷۴م کال کی یی په لوړو نمرودسیاسی علومو ماستری واخیسته چې تیزس یې په دې سرلیک و

Deutsche Bundestag als Forum der politischen Auseinandersetzung über die Der
Deutschland- und Ostpolitik der sozial-liberalen Koalition von 1969-1972

د ډاکترې بورس ورته هم د پوهاندانو په سپارښتنه د فریدریش ایبرت شتیفتونګ له خوا ورکړل شو. په ۱۹۷۸م کال کی دسیاسی علومو ډاکتر شو او په همدغه پوهنځی کی یی داستاد په توګه علمی کرسی له ۱۹۷۷ راهیسې ترلاسه کړې وه. د ډاکترې تیزس یې و:«قبیلوي ټولنه، ملي دولت او اِیریډینتیزم د پښتونستان د مسئلې په مثال سره»، یعنې

Stammesgesellschaft, Nationalstaat und Irredentismus am Beispiel der Pashtunistanfrage.
ISBN 3-88129-141-5 .Haag+Herchen Verlag GmbH, 6000 Frankfurt/Main1, Fichardstrasse 30.

لکه پاس چې وينئ، د دغه تيزس ټول متن د برلين د ازاد پوهنتون د سياسي علومو د پوهنځي د استادانو په سپارښتنه، په فرانکفورت/ماين ښار کې فورا په ۱۹۷۸ کې خپور شو.

په برلين کې ځيرکيار پوره تجربی راغونډی کړی او بيا خپل هيواد ته راستون او دکابل پوهنتون دحقوقو او سياسی علومو په پوهنځی کی استاد شو. ځيرکيار سياسي علومو ته «واګپوهنه» وايي. که څه هم دراستنيدو سره سم د ځنی سياسی لانجو سره مخا مخ شو خو خپلی دندی ته يی دوام ورکړ. په افغا نستان باندی دسره لښکر له يرغله وروسته، د ۱۹۸۰م په فبروری کی ځيرکيار د ډاکتر عثمان تره کی، پوهاند فضل ربی پژواک، ډاکتر عطا نورزايي، او ډاکترطاهر هاشمي سره په ګډه، په پټ ډول «دخپلواکی غوښتونکو جبهی» په نامه د مقاومت يو سياسی سازمان جوړ کړ. ځيرکيارلږه موده وروسته پوه شو چی افغانی «پلوريتاريات» روسی کا جی بی يی په لټه کی دی نو شپه په شپه له کابله د ۱۳۵۹لمريز د ثور د جشن د ترتيباتو( ۲۷ اپريل ۱۹۸۰) په مهال د پکتيا د ځاځيو له لارې د پيښور په لور وخوځيده، د ۱۹۸۰م د می په ۲ پيښورته ورسيد اود شهيد پوهاند ډاکتر سيد بهاوالدين مجروح سره په «ممثـله لويه جرګه» کې يو ځای او دهغه مشاور شو(د شورويانو په يرغل سره، ځيرکيار په کابل کې د پوهاند مجروح سره په ممثله لويه جرګه غړيدلی و). دلته يی هم ډير زر د افغانی «ملاتاريات»او د پاکستانی آی اس آی تند بوی تر سپږمو تير شو او سريی ور ګنګس کړ.نو ځکه په ډيره بيړه.
يی د ۱۹۸۰د می په پای کې المان ته پنا يووړه.کله چی دخپل پخوانی يار او د تحصل وخت ملګری ډاکترکبير ستوری سره مخامخ شو، نو هغه تری وپوښتل چی په کابل کی ډير تم شوې او د پيښورنه ډير زر را ووتې، دا ولی؟ ده ور غبرګه کړه چی په کابل کی می د «پلوريتاريات» له لوری تن په خطرکی واوپه پيښورکی می د «ملاتاريات» له خـوا سر دخـــطر سره مخامخ شو ـ او دا چی پرما می سر تر تنه ډير ګران دی نوځکه په ځغاسته له پيښوره را وتښتيدم. دهمدی ۱۹۸۰م کال په دسمبر کی د المان څخه امريکا ته لاړ او تر اوسه هلته اوسيږی.
له امريکا يې په پيښور کې دافغانی ليکوالو دټولنی «وفا»[رايټرز يونين آف فري افغانستان] سره هم دمشاور په توګه مرسته کـوله. دا يو نيک پال و چی ډاکتر ځيرکيار خپل سر او تن
دواړه د «پلـوريـتاريـــات»او« مُـلا تاريات» له شره وژغورل او د خپل ملک او ولس په خدمت کی يی سترې اوستومانه کړل. دی په لومړی سر کی داوريګون ايالت د بيورټن ښار په شخصی پوهنتون (سيټي يونيورسيټي) کی د استاد په چوکی وګمارل شواو ورپسی دهمدی ايالت د پورټلنډ ښار په دولتی پو هنتون کی استاد شو.په پوهنتون کی د ښوونو او څيړنو تر څنګ يی عملی سياسی اوکلتوری هلی ځلی هم پيل کړی. په ۱۹۸۳م کال کی يی په اوريګون ايالت کی« دافغانانو کلتوری اوخدماتی مرکز» جوړکړ او دی يی موسس مشر وټاکل شو. ورپسی يی په کليفورنيا ايالت کی«دملی خپلواکی جبهې» په



تاوزَند اوکس،کليفورنيا ۲۰۱۰ پسرلی



باچاخان سمينار:کولن،جرمني ۲۰۰۸نومبر

جوړولو کې فعاله برخه لرله چی د ځنی ستونځو له مخی بيرته منحل شوه. بيا يی هلته «په افغانستان کی قانونی واکمنی» په نامه د يو انجمن په جوړولو او پالنه کې فعاله برخه لرله. د دغه انجمن خپرونه «جـرګه» نوميدله چې د قانونی واکمنی په هکله ليکنی به پکې خپريدلې اوځينو افغانانو به ورته د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه جرګه ويله. زيرکيار سربيره په پخواني پاچا، د پخواني صدراعظم ډاکترمحمد يوسف او د صدارت د پخواني معاون ډاکتر عبدالصمد حامد سره هم د افغانستان د بخولې (فاجعې) د حل په اړه اړيکې ساتلې وې. ځيرکيار د ۱۹۹۶ د دسمبر په وروستنئ اونئ کې د نورو افغانانو( امام الدين ساپي،محمد حسن ولسمل، ډاکتر فضل ربی ساپي، سيد مسعود پوهنيار) سره يوځای د طالبانو د مشرانو

سره ولیدل. په کندهار کي ملا محّمد عمر اخوند او په کابل کي مولوي احسان الله احسان د جګړه وهلي افغانستان په لومړي پړاو کي په امنیت او د خاوري په بشپړتیا ډیر ټینګار کاوه.
ځیرکیار تر اوسه ګڼ شمیر کتابونه او رسالي په پښتو، جرمني او انګریزی ژبو لیکلی او د معتبرو خپرونکو چاپ ځایو له خواخپاره شوی دی. دمقالو شمیر یی نه دی مالوم خو په پوره باور سلګونو ته رسیږی.
د برلین په آزاد پوهنتون کي د ایران د مطالعاتو اِنستیټوټ یو جرمن محقق(ګریویمایر او/یا مرستیال پوهاند ډاکتر کیپینبیرګ) د ځیرکیار نه په ۱۹۷۷ کي هیله کړې وه چي که د دغه انستیټوټ په جرمني خپرونه (مردم نامه)* کي کومه لیکنه خپره کړي. ځیرکیار ورته وویل چي تاسي د «شهنامي» په ځای «مردم نامه» نوم غوره کړی دی او د مردم نامي په وروپسي معرفي کوونکي عنوان کي مو « د ایراني ملتونو د تاریخ او ټولني کتابګوټی» خوندي کړی دی: یعني «مردم نامه – د ایراني ملتونو د تاریخ او ټولني کتابګوټی».
Mardom Nameh-Hefte zur Geschichte und Gesellschaft iranischer Völker (*)
ځیرکیار ورزیاته کړه چي «مردم نامه» د «تاریخ او ټولني» سره اړخ لګوي،خو د «ایراني ملتونو» سره یي نه لګوي. د دغه استدلال له امله د خپروني عنوان داسي واوښت: «مردم نامه – د منځني ختیز د تاریخ او ټولني کتابګوټی»، یاني
Mardom Nameh-Hefte zur Geschichte und Gesellschaft des Mittleren Orients
د دغه کیفي بدلون په اساس، ځیرکیار په جرمني ژبه کي خپله لومړئ لیکنه په ذکر شوې خپرونه کي په ۱۹۷۷م کي په دې سرلیک خپره کړه
, Mardom Nameh – Hefter zur **“Sozialstruktur und Surplusverteilung in Pashtunistan”
Geschichte und Gesellschaft des Mittleren Orients, Nr. 3, 1977(**)
ژباړه: په پښتونستان کي ټولنیز جوړښت او د زیاتي شتمنی ویش.
ما د ځیرکیار ټولی نه خو د هغه ډیری لیکنی لوستلی دی. د ده په لیکنو کی دټولنیز ژوند سیاسی بهیرونه،موسسی، پدیدی، کړنی، مفکوری او دهیواد دسیاسی تاریخ یوه برخه او په همدی ډول په هیواد کی دروان نا ورین د سیاسی حل لاری چاری تر ځیرنی او غور لاندی نیول شوی دی او له دی لاری یی د پښتو ژبی د پوهنیزی زیرمی په پراختیا کی دپام وړ ونډه اخیستی ده. وړاندی مو دی ټکی ته ګوته ونیوله چی په کابل او پیښور کی د ځیرکیار سر او تن دګواښ سره مخامخ وو نوځکه امریکا ته کډوال شو. داسی ښکاری چی په امریکا کی له دی ګواښ نه په امن کی دی خو سره له دی هم په افغانستان باندی دامریکا په مشری دناټو له یرغل سره جوړنه دی او سی آی ای ته هم د خیریه موسسی په سترګه نه ګوری، د ی ولسواکی ته ژمن دی او دانسان ژوند تر هر څه وچت ګنی. ژوند ته تر ټولو لوی ګواښ جنګ بولی او سوله دهغه دسا تنی ضروری بنسټ ګنی. لانجی په سوله عادلانه حل کیږی او ورسره سوله نوره هم ځواکمنه کیږی.

وسلوال یرغلونه سوله نه ده،جنګونه دی او جنګونه خو وژنی او قتلونه دی. د امریکا په مشری په افغانستان دناټو یرغل زموږ په هیواد کی څه ناڅه پای ته رسیدلی جنګونه له سره تازه کړل. بی وسلي شوي بهرته تښتید لي او یا په سمڅو ننوتلي جنګسالاران، جنګی جنایتکاران،غله او لوټماران یی په ښه بیه په ډالرو را ونیول،له بهره یی را وبلل،له سمڅو یی را وباسل او له ځان سره یی ملګری کړل، په وسلو یی سمبال او په افغانستان یی واکمنان کړل. زورواکی ،غلواکی او بلواکی ته یی د خپلواکی او ولسواکی نومونه ورکړل،تعصبونه او فسادونه یی پریمان کړل. دا هسی ښه ولسواکي ده، هسی ښکلی خپلواکي ده چی پکی د پستی او د فساد تر منځ سیالي ده، د زور خو غلامي ده په کمزوري فرعوني ده. د نظام چلوونکی د مخالفانوسره جوړیدلی نشي، د نظام په د ننه کی یوبل زغملی نشي.هریو بل ته ګواښیږي، یوله بله هم ډاریږي، هر یو بل ته په سنګر دی، د وحشیانو جوړ غوبل دی. په دی غوبل کی د سولې هیلې تر پښو لاندی کیږی، جنګونه روان دی او وینی تویږي، او د ډاکتر ځیرکیار په نظر دا ناورین زموږ په ملک د امریکایی یرغل پایله ګڼل کیږی. ځیرکیار سره له دی چی دخپل عمر څه ناڅه ۵۱ کاله یی دهیواد نه بهر تیر کړی دی افغان پاتی شویدی. دهیواد په خپلواکی مین دی او په هیواد کی سولی او سوکالی ته ژمن دی. په افغانیت ویاړی. پښتو اوپښتونولي پالي. دعلمی، سیا سی او ادبی ځیرنو او لیکنو له لاری وطن ته په خدمت لګیا و او لګیا دی.
د ځیرکیار لیکني په لاندې خپرونو کي چاپ شوي وي:
کابل مجله (کابل، افغانستان)، افغان ملت(پیښور او اروپا)، مجاهد ولس(اوسلو، ناروې)، وفا (انګریزي مجله، پیښور)، هیله (پیښور)، ازاد افغانستان (پیښور)، دعوت (لیلی ستروم، ناروې)، سباوون (کلیفورنیا، امریکا)، آیینۀ افغانستان (کلیفورنیا، امریکا)، قلم در خدمت جهاد (کلیفورنیا، امریکا)، خراسان.

(کلیفورنیا، امریکا)، کیوان افغان (کلیفورنیا، امریکا)، در راه صلح (کلیفورنیا،امریکا)، جرگه (کلیفورنیا، امریکا)، لمر(انتاریو، کاناډا)، افغان رساله (انتاریو، کاناډا)، ګوربت ( پیښور)، الفت (پیښور)، صلح و افغانستان امروز (بُن، جرمني)، ورځ (پیښور)، ګودر (پیښور)، لیه (کابل اوپیښور)، پښتونخوا(جرمني/کولن یا پیښور کې)، ملي هنداره(پیښور).
ځیرکیار لیکلي دي چي لاندې لیکني یې «د خلکیانو په واکمنی (۱۹۷۸تر ۱۹۷۹) کي «میلمه» شوې وې، «خو مړ او ژوندی یې ورک شو»: (الف) په دریمه نړۍ کې د نیشنلیزم ډولونه؛ (ب) د «سوشلیستي جرمن ملت» جوړښتیز مشکلات؛ (پ) دین او سیاست په افغانستان کې؛ (ت) بیوروکراسي: د میز بلا. ولولئ: ځیرکیار، کره کتنه نه شهنامه ده او نه جنګنامه.۲۰۰۳. ښایي په کابل پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي یا دعدلیې د وزارت د خپروني («عدالت»؟) په دفتر کې پرتې وې؟ په لاندې خپرونه کې د ځیرکیار یوه انګریزي لیکنه هم خپره شوې وه .

“The New Frontier” (Salt Lake City, Utah, USA), Muslim Students Association at University of Utah

ځیرکیار په اینټرنیټ/برېښناپاڼو کې هم ډیرې لیکنې خپرې کړې دي: دعوت، ټول افغانستان، روهي، ژمن، نعیمي .دک، ټول افغان، پکتیکا، پښتونخوا، افغان – جرمن انلاین، اریاناافغانستان انلاین، بینوا،ازادافغان. که د کومې خپروني نوم ورنه «هیر شوی وي» ځیرکیار بخښنه غواړي!

له ښي اړخ نه: فضل ربی ساپی د رحمت ربی ځیرکیار سره د مخه ښي لپاره په جرمني کې د میونستر د ګاړي سټیشن په مخ کې(۱۹۶۸)

## په پښتو کې د ځیرکیار خپاره شوي کتابونه او رسالې:

## (الف) کـــتابــونـــه:

(۱) ملنګ جان: د بې درباره ملي ژبې ملي شاعر. کلیفورنیا،امریکا: ۱۹۹۵زییز=۱۳۷۳ هجري لمریز. د چاپ لګښت د منلي سیداګل غریبیار، او تخنیکي چارې یې د منلي عبدالقیوم مهمند په غاړه وې چي هغه مهال د «سباوون» خپروني موسس او چلوونکی و

(۲) ملي ستم، ملیت او خراسان. خپرونکي: د پښتني کلتور د ودې ټولنه-جرمني. د چاپ چارې: د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره. چاپځی: ملت پریس، لاهور ۲۰۰۱/۱۳۸۰لمریز

(۳) زیرکي ویناوې. خپرندوی: پښتون یون – نیویارک، امریکا. چاپځی: ملک پرینټینګ پریس، لاهور، لمریز ۱۳۸۱/زییز۲۰۰۲. دا کتاب په نیویارک کې د «پښتون یون» د مشر لطیف جان بابي په ځانګړي لګښت خپور شوی دی.

(۴) د اساسي قانون او جرګیي کړنلارو لنډکی لارښود. خپرندوی: پښتون یون – نیویارک، امریکا. چاپځی: پیښور، ۱۳۸۱لمریز/۲۰۰۲زییز. دا کتاب د پښتون یون د مشر لطیف جان بابي په ځانګړي لګښت خپور شوی دی.

(۵) د افغان ملي شعور دغدوځه [ایکسرې]. خپرندوی: پښتون یون - نیویارک، امریکا. چاپځی: پیښور: لمریز1382/۲۰۰۳زییز

(۶) کره کتنه نه شهنامه ده او نه جنګنامه! خپرندوی: د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه، کابل. تمویلونکی: محّمد آصف وردګ. چاپځی: پیښور، قصه خاني بازار،۲۶ نومبر ۲۰۰۳م/۳ لینده ۱۳۸۲

(۷) سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه په لویدیزه او اسلامي نړۍ کې. احمدی پرینټینګ پریس، پیښور: دسمبر ۲۰۰۵. په دغه کتاب کې ځیرکیار د خپلو لیکنو لیکونکی دی او د نورو د لیکنو راویستونکی دی. ځیرکیار زیاتوي چي:« د دې کتاب د چاپ لګښت د معلوماتو له مخې، د جرمني فریدریښ ایبرت شتیفتونګ (موسسې) یوپا ځو افغانانو ته ورکړی و. دا کتاب په ډېر ځنډ او غته بې پروایی سره ټایپ شوی دی. هیڅ یې ټایپي تیروتنې نه دې سمې کړې او د چا په وینا، په پټو سترګو یې خپور کړی دی. د کتاب د لومړۍ پاڼې په دوهم مخ کې راغلي دي چي:ٌد چاپ ټول حقوق د علامه محمد (طرزي) د کلتوری ټولنې سره خوندی دی.ٌ که مطلب یې په افغانستان کې د ژورنالیزم پلار محمود طرزي وي، نو بیا خویې د خپلې ټولنې نوم هم سم نه دی لیکلی!محمد مهدی طرزی په ایران کې د پلاستیکي جراحی یو وتلی ډاکتر دی.»- ځیرکیار.

(۸) د نوې سیاست الجبره: د امریکې د امپراتورۍ لپاره فکرونه، ستراتیجي ، پلانونه، عملیات، ډنډورې او غولونې (۱۹۸۹تر ۲۰۰۵). دغه کتاب د منلي محّمد اصف وردګ په اخلاص، مېړانه او هڅو په ۲۰۰۶/لمریز۱۳۸۵ کې په پیښوراو/یا کابل کې په دانش کتابتون کې چاپ شوی دی.

(۹) ژبه له بابا ادمه تر دې دمه. ۲۰۱۰ زییز. برېښنایز/اینټرنیټ کتاب.

## (ب) کـتاب ګـوټي(رســالــې) په اینټرنیټ کې:

(۱) ډیورنډ ترون د سیاست او حقوقو په تله کې. می ۲۰۱۰.

(۲) د بې تاوه پاخون لنډکی لارښود: د غریب سرې وسله ( ۲۲ /۶/ ۲۰۱۱ زییز).

(۳) د سي. آی. أې. د حقایقو د کتاب څیړنه ۱۹۸۱تر ۲۰۱۲. جولای ۲۰۱۳زییز

(۴) فرهنګي حقوق د افغانستان په سفارتونو کې: ۲۲ اپریل ۲۰۱۴زییز.

(۵) ملي ګټې د یو ژور بحث لپاره. ۱۹ اکتوبر ۲۷/۲۰۱۵ تله۱۳۹۴لمریز.

ځیرکیار واده په برلین کې کړی دی،میرمن یی افغانه او په کام نورستانی ده، نوم یی کبرا دی. بی بی کبرا په برلین کی د ډیزاین زده کړی ده. دا پو هه، درنه او مهر بانه میرمن ده. اولا د نه لری خو د دواړو تر منځ ګرانښت، مینی او یو بل ته د زړه له کومی درناوی یی د ژوند دنیکمرغۍ ډیوه رڼا ساتلی ده. زه دواړو ته د اوږده عمر په تمه د خپلی لیکنی دی باب ته په یو اقتباس دپای ټکی ږدم: «یو ماشوم، یوښوونکی، یوقلم او یوکتاب نړۍ بدلولی شي.»- ملاله یوسفزۍ.



له ښي اړخ نه ببریګل وزیر او رحمت ربی ځیرکیار(۱۹۷۰م میلزونګین،جرمني: د یوه جرمني په کور کې یې د کټ له څادرونو نه پټکي جوړکړي دي). حکیم تنیوال، ځیرکیار او انوارالحق ظفري(۱۹۶۸زییزپه فرانکفورت/ماین،جرمني کې ټنګ ټکور اوري).

Rona Gul Aryobsei, Biography of Dr. Rahmat R. Zirakyar. 11 June 2016